عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۵ سپتمبر ۲۰۲۵
اصل: انګليسي

**عمومي اسامبله**
**اتيايمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعيت**

**امنيت شورا**
**اتيايم کال**

## په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوالې سولې او امنيت يې اغيزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۹۷/۳۱۷ ګڼه پرېکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) ګڼه پرېکړه ليک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د وضعيت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د ماموريت د تطبيق په اړه په محلي کچه راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۵ کال د جون په ۱۱ نېټه خپور شوي راپور (A/79/947-S/2025/372) راهيسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو له سياسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دويم: اړوند بدلونونه

۳. واکمنو چارواکو د خپل واک د نيولو څلورمه کليزه د افغانستان د ثبات، منځنۍ لوی اقتصادي ودې او په سيمه ايز اقتصاد کې د هغې د زياتيدونکي ادغام په روښانه کولو سره ونمانځله. د طالبانو مشر، ملا هبت الله اخندزاده له زيات شمېر واکمنو چارواکو سره خبرې اترې کړي او ټينګار يې پرې کړې، چې د ده اطاعت وکړي او شرعي قانون په جدي توګه پلې کړي. وسله والو مخالفو ډلو د بريدونو ادعا وکړه؛ خو بيا هم، دوی د واکمنو چارواکو د ځمکني کنټرول پر وړاندې کومه ستره ننګونه نه ده رامنځته کړې. په عراق او شام کې اسلامي دولت (داعش-خراسان څانګې) د کوم لوی بريد ادعا نه ده کړې. د واکمنو چارواکو د محدودوونکو پاليسيو او کړنو له امله د ښځو او نجونو حقونه د ملکي ژوند په ټولو برخو کې له پامه غورځېدلي. ځينو ځايي خلکو د ډېرى ټولنيزو اقتصادي ننګونو لکه؛ د بې کارۍ، د اوبو کمښت او د تعليم او روغتيا پاملرنې په څير بنسټيزو خدمتونو ته د لاسرسي د نشتوالي خبره کړې ده. د افغان راستنيدونکو کډوالو ډله ايز راتګ، د هغو کسانو په ګډون چې جبري راستنيدو سره مخ شوي يا هغه کسان چې له ګاونډيو هيوادونو څخه په نامناسب وضعيت کې راستانه شوي، په افغانستان کې بشري بحران لا پسې زيات کړی، چې د سرچينو او په سيمه ايزه کچه د غبرګون او مقابلې ميکانيزمونو د کمښت او محدوديت له امله يې په دولت باندې سخت فشار راوړی دی. د ۲۰۲۵ زېږديز کال لپاره د افغانستان د بشري اړتياوو او غبرګون پلان، چې د ۲۲،۹ ميليونه اړمنو له ډلې ۱۶،۸ ميليونه د مرستې هدف ګرځوي، د اګست په ۲۸ نېټه د ټولټال ۲،۴۲ ميليارده ډالرو اړتيا وړ بوديجې يوازې ۲۷،۱ سلنه تمويل شوی دی.

### الف. سیاسي بدلونونه

۴. د اګست په ۱۵ نېټه د واکمنو چارواکو د واک پنځم کال پیلېږي. دوی د تېر کال په څېر، خلکو ته د خپلو لاسته راوړنو د وړاندې کولو لپاره د حساب ورکونې غونډې ترسره کړې. د واکمنو د ریاست الوزراء د دفتر رئیس د جولای په ۱۶ نېټه د دغو غونډو د پرانیستې په مراسمو کې د رونټیا پر اهمیت ټینګار وکړ، او یادونه یې وکړه چې ۴۴ ادارې به خپل کلني راپورونه د رسنیو پر وړاندې له خلکو سره شریکوي. واکمنو چارواکو د دوی د 'فتحې ورځې' په مناسبت ویناوو کې له بهرني اشغال څخه ازادي، د شرعي نظام رامنځته کول او د هېواد په کچه د امنیت تأمین، د سولې او ملي بیا جوړونه کې لاسته راوړنې، د اداري فساد، ظلم او ټولنیزې تفرقې له منځه وړل خپلې لاسته راوړنې یادې کړې.

۵. د طالبانو مشر په کندهار کې له بیلابیلو چارواکو لکه؛ د کابل د یو شمېر ریاستونو، د واکمنو د استخباراتو عمومي ریاست چارواکو او د هېواد په کچه له قاضیانو سره یو لړ لیدنې وکړې. نوموړي په دغو لیدنو کې له خلکو څخه یو ځل بیا د اسلامي نظام د پیروۍ او د شریعت د نافذولو غوښتنه کړې ده. د طالبانو مشر د جون په ۷ نېټه د اختر د خطبې پر مهال پر دیموکراتیکې حکومتولۍ نیوکه وکړه، او ویې ویل چې په افغانستان کې دغه ډول حکومتولي ناکامه ده او د راتلونکې لپاره یوه حل لاره نه وه. همدا راز نوموړي په جون میاشت کې د ځیرک موبایلونو د کارونې او په سیاسي بحثونو کې پر واکمنو چارواکو د نیوکو د منع کولو دوه حکمونه صادر کړل. واکمنو چارواکو له جون څخه تر جولای میاشت پورې د مشاعرو او د دیني تبلیغ د ځینو ډولونو سانسورولو او د ځان وژونکو کسانو د جنازې لمونځ نه ادا کولو په برخه کې نوي محدودیتونه اعلان کړل.

۶. د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د تنفیذ کمپاین زیات کړی، چې د نارینه وو لپاره د ږیرې او د ښځو لپاره د حجاب مراعتولو ټاکل شوو معیارونو باندې تمرکز کوي. همدارنګه د واکمنو یاد وزارت د ټولنیزو رسنیو د نا اخلاقي کارونې پر وړاندې اخطارېې صادرې کړې، د افغان فلم ریاست یې وتاړه او په لغمان ولایت کې یې د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو بندیز ولګاوه، چې په دې سره دا نوولسم ولایت شو چې یاد بندیز پکې پلی کېږي. واکمن وزیر، محمد خالد حنفي په نورستان او هرات ولایتونو کې له خلکو او ځایي چارواکو سره ولیدل او ترې یې د دې قانون د بشپړ تطبیق او انفاذ غوښتنه وکړه.

۷. واکمنو چارواکو رهبرۍ ته د وفادارو اشخاصو په ځانګړې توګه سرېږیو تقرر او تغیر او تبدیل ته دوام ورکړی، چې د واکمنو د ښاري پراختیا او کور جوړولو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیران او د حج او اوقافو وزارت معین پکې شامل دي. په محلي کچه د واکمن نظام ۱ والي، ۶ د والي مرستیالان، ۴۰ ولسوالان، ۳۹ د ولسوالیو امنیه قومندانان، ۴ د استخباراتو ولایتي رئیسان او لږ تر لږه ۱۳ ولایتي رئیسان مقرر شوي دي. په فاریاب او لغمان ولایتونو کې دوه نوې ولسوالۍ ایجاد شوي دي. سربېره پر دې، په بیلابیلو محکمو کې ۲۵ نوي قاضیان هم په دندو ګمارل شوي دي.

۸. د طالبانو د مشر لخوا د واکمنو په ملکي او امنیتي ادارو کې د تنقیص اړوند د ۲۰۲۵ کال د اپریل ۸ نېټې صادر شوي حکم، په ځانګړې توګه د رسنیو، تعلیم او تربیې او روغتیا په سکتورونو کې د ښځینه ښوونکو د منفکولو په ګډون، د تطبیق بهیر دوام لري. د واکمنو په امنیتي ادارو کې د کارکوونکو د تنقیص او کمولو چارې، د واکمنو د ملي دفاع وزیر، محمد یعقوب په مشرۍ، د واکمنو د امنیت او تصفیې کمیسیون تر څارنې لاندې ترسره کېږي. د واکمنو د ملي دفاع وزیر د جولای په ۲۲ نېټه وویل چې کارکوونکې یې ۱۰ سلنه کم شوي او ۱۰ سلنه یې احتیاطو ته ورپېژندل شوي دي.

۹. ځایي خلکو د اقتصادي ستونزو، خو ځینو د یوه ډله مشخصو خلکو سره د ناسم چلن په تړاو اعتراضونه وکړل. د بېلګې په توګه، متقاعدینو په کابل کې اووه ځلې اعتراضونه وکړل ځکه د نږدې څلورو کلونو راهیسې یې خپل د تقاعد حقونه ترلاسه کړي نه دي. په بدخشان ولایت کې د کوکنارو کښت له منځه وړلو په تړاو اعتراضونه شول، او په آدم خان کلي کې ځایي بزګرانو د دوی پر کرنیزو محصولاتو د واکمنو د مالیې اخیستلو هڅو پر وړاندې مقاومت وکړ. د جولای په لومړۍ نېټه د عاشورا ورځې د نمانځنې څخه مخکې د هرات ښار په جبرائیل ښارګوټي کې شاوخوا ۵۰۰ ځوانان او ځایي خلک په فرهنګ څلورلارې

کې راټول شوي وو څو د عاشورا ورځ د نمانځنې په موخه د دوی لخوا سینګار شوو دروازو، بیرغونو او د سړک غاړې د ځښاک اوبو لپاره لګول شوو سیستمونو ویجاړولو پر وړاندې اعتراض وکړي. دا کار د واکمنو د استخباراتو عمومي ریاست ځواکونو د دې لپاره کړی و چې په وینا یې د پیاده تلونکو کسانو د تګ مخه یې نیولې وه.

۱۰. واکمنو چارواکو په اوو ولایتونو کې نهه (۹) نوې مدرسې جوړې کړې. په دریو ولایتونو کې د واکمنو لخوا په ثبت شوو اووه (۷) مدرسو کې د دستار بندۍ مراسم نیول شوي وو، چې په پایله کې یې ۱۱۹ نارینه او ۳۰ ښځې له دغو مدرسو څخه فارغ شول. د مرکز او ولایتونو په کچه لوړ پوړي چارواکي لا هم له دغو مراسمو څخه د ملي یووالي، د شرعي قانون تطبیق او ځوانانو ته د دیني زده کړو ورکولو اهمیت بیانولو لپاره ګټه اخلي.

۱۱. د واکمنو د عدلیې وزارت د جون په ۱۷ نېټه اعلان وکړ چې له اسلامي فقهې سره د ټولو موجوده قوانینو د مطابقت او سمون لپاره د دوی د بیاکتنې چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوې دي. د واکمنو ویاند د جولای په ۲۰ نېټه په یوه رسنیزه مرکه کې وویل چې دوی د اساسي قانون لپاره هیڅ اړتیا نهویني او شرعي قانون یو جامع قانوني چوکاټ برابروي. نوموړي همدارنګه د اګسټ په ۱۰ په یوه رسنیزه مرکه کې دا هم وویل چې قانوني تشه نشته، خو یادونه یې وکړه چې، حالاتو ته په پام سره او د اړتیا له مخې، واکمن چارواکي به د رسمي اساسي قانون پر جوړولو باندې غور وکړي. نوموړي ټینګار وکړ چې ټولې حکومتي کړنې د اسلامي شریعت پر بنسټ ترسره کېږي. همدارنګه د اګسټ په ۱۵ نېټه، هغه په یوه بله مرکه کې څرګنده کړه چې واکمنو چارواکو د اداري اغېزمنتوب او حساب ورکونې د لا زیاتوالي په موخه د چارواکو د دندو له عنوانونو څخه د 'سرپرست' کلمه حذف کړې ده.

۱۲. د واکمنو چارواکو لخوا ښځو ته د وکالت جوازونو پر ورکړې بندیز لا هم په خپل ځای دی. د ۲۰۲۲ کال تر جون میاشتې پورې په افغانستان کې ۲۴۰۹ نارینه مدافع وکیلانو ته د وکالت جوازونه ورکړل شوي دي، په داسې حال کې چې د دې په پرتله د جمهوریت پر مهال د ۲۷۰ ښځینه وو په ګډون، ۴۰۰۰ نارینه وو ته د وکالت جوازونه ورکړل شوي وو. زیات شمېر حقوقي دعوې د غیر رسمي شخړو حل میکانیزمونو له لارې حل کېږي، چې هم مدعیان غواړي شخړې یې له دې لارې حل شي او هم قاضیان دوی ته دعوې د حل لپاره راجع کوي.

۱۳. یوناما د می له ۲۳ نېټې څخه تر اګسټ ۳ نېټې پورې په بیلابیلو ولایتونو کې په خپلو ساحوي دفترونو کې د لاسرسي او پوهاوي ۱۶۴ فعالیتونه ترسره کړي، چې په ترڅ کې یې د مدني ټولنې نارینه او ښځینه فعالانو، قومي مشرانو، خبریالانو، متشبثینو، فعالانو او ځوانانو سره ناستې او خبرې اترې کړې دي. دغو ګډونوالو د مدني فضاء راتنګېدو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړې او پر ټولګډونه تعلیم او تربیې، د ځوانانو لپاره کاري فرصتونو او غوره خدمتونو په تېره بیا، د روغتیا، اوبو او کرنې، پر اهمیت باندې ټینګار کړی دی. ځوانو نارینه او ښځینه ګډونوالو د ځوانانو ترمنځ د رواني روغتیا ستونزې زیاتوالي راپور په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي، چې دوی یې لامل د اقتصادي ستونزې او پراخې بېکارۍ ترڅنګ د ښځو زیاته ځارنه او ځورونه ګڼي.

۱۴. واکمنو چارواکو راپور ورکړی چې، د می له ۲۳ نېټې څخه تر اګسټ ۳ نېټې پورې په ۲۰ ولایتونو کې د کورنۍ او ټولنیزو ستونزو اړوند، ځمکې او اوبو پر سر ۵۱ ځایي شخړې او دعوې د ځایي قومي مشرانو، دیني عالمانو او واکمنو چارواکو په منځګړیتوب حل شوي دي. ځایي سرچینو ادعا کړې چې ټول ښکیل لوري د شخړو د حل د دې بهیر څخه راضي وو.

۱۵. همدارنګه له نړیوالې ټولنې، واکمنو چارواکو او افغانانو سره د سیاسي لار نقشې په اړه د ملګرو ملتونو خبرې اترې لا هم دوام لري څو د بشري حقونو اوړ حکومتولۍ په ګډون پیچلې ستونزې په هر اړخیزه توګه حل کړي. دا هغه ستونزې دي چې د افغانستان پر اوسني وضعیت اغېزه لري او له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د بیا یو ځای کېدو مخه نیسي، او د جولای په اوومه (۷) نېټه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې لخوا د تصویب شوي ۷۹/۳۱۷ ګڼه پرېکړه لیک سره سمون لري.

### ب. امنیت

۱۶.	ملګرو ملتونو د می له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۳۱ نېټې پورې، ۲۶۵۸ امنيتي او د خونديتوب پېښې ثبت کړي دي، چې د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله ۹ سلنه زياتوالی ښيي.

۱۷.	وسله والو مخالفو ډلو د می له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۳۱ نېټې پورې، د طالبانو لخوا پر ملي قلمرو د کنټرول پر وړاندې کوم د پام وړ ننګونه نده رامنځته کړې. د افغانستان د آزادۍ جبهې، ملي مقاومت جبهې، د افغانستان د آزادۍ غورځنګ، د خلکو د خپلواکۍ جبهې او د ملي ثبات جبهې د ټولټال ۴۷ پېښو مسؤوليت منلی، چې له ډلې يې ۱۹ پېښې تثبيت شوي دي.

۱۸.	د می له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۳۱ نېټې پورې، د داعش خراسان څانګې د بريدونو په شمېر او کچه کې کموالی راغلی دی، خو واکمنو چارواکو د دې ډلې پر ضد عملياتو ته دوام ورکړی دی. د راپورونو له مخې د جون په لسمه په کابل او په کونړ او ننګرهار ولايتونو کې د جون په نهه ويشتمه او د جولای په دريمه نېټه د واکمنو د استخباراتو عمومي رياست په عملياتو کې د داعش خراسان څانګې غړي وژل شوي دي. د بدخشان ولايت په شهدا ولسوالۍ کې د می په ۲۶ نېټه، د يو سلفي ديني عالم په نښه کولو بريد، چې ادعا کېده له داعش سره اړيکه لري، په پايله کې نومووړی ديني عالم او د هغه ساتونکي ووژل شول، خو د واکمنو امنيتي ځواکونو ته اوښتي تلفات تائيد شوي نه دي. نامعلومو کسانو د جون په ۱۴ نېټه د بدخشان ولايت په نُسی ولسوالۍ کې د جومات شيعه ملا امام په ډزو سره وژلی او بيا يې سر ورته پرې کړی او په دغه سيمه کې يې د داعش بيرغ هم پرې ايښی دی. د داعش خراسان څانګې د جون په ۱۵ نېټه د ننګرهار ولايت په دره نور ولسوالۍ کې د واکمنو امنيتي ځواکونه په نښه کړل. همدارنګه د جولای په ۸ نېټه د لغمان ولايت په الينګار ولسوالۍ کې د دواړو ډلو ترمنځ د وسله والې نښتې راپور ورکړل شو.

۱۹.	د می له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۳۱ نېټې پورې، د واکمنو امنيتي ځواکونو او د پاکستاني ځواکونو ترمنځ په خوست، کونړ، ننګرهار او پکتيکا ولايتونو کې د وسله والو او پر پوله د ډزو راپور ورکړل شو. د هلمند ولايت د ديشو ولسوالۍ په بهرامچه سرحدي پوله کې د می ۳۰ نېټې او جون لومړۍ نېټې ترمنځ موده کې د واکمنو امنيتي ځواکونو لخوا پر پوله د پوستې جوړولو له امله وسله واله نښته رامنځته شوه او د هاوان مرمۍ وتوغول شوې، چې د شاوخوا ۵۰ کورنيو د بې ځايه کېدو لامل شول. په ټوليز ډول، په کندهار، پکتيکا، خوست او پکتيا ولايتونو کې د بې پيلوټه الوتکو ۱۲ ځل ليدلو او د جيټ الوتکو دوه ځل ليدلو راپور ورکړل شوی دی.

۲۰.	د پاکستان امنيتي ځواکونو ادعا کړې چې پر پوله د پاکستاني طالبانو د تحريک يو شمېر جنګيالي چې د جولای په ۱۶ او ۲۳ په پکتيکا، د جولای په ۳ او ۲۷ په خوست او د جولای په ۸ نېټه په کونړ کې پاکستان ته د راوښتو او بېرته اوښتو هڅه يې کوله، وژلي دي. همدارنګه د چاودنو په دوو جلا پېښو کې د کونړ په اسمار او شلتن ولسواليو کې د راپورونو له مخې چې ادعا کېده د دې ډلې غړي دي، وژل شوي دي.

۲۱.	ملګرو ملتونو د می له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۳۱ نېټې پورې، ۵۷ امنيتي او د خونديتابه پېښې چې د دې سازمان پر کارکوونکو مستقيمه اغېزه لري، ثبت کړي دي. د ملګرو ملتونو لسګونه ښځينه کارکوونکې په ياد سازمان کې د کار په تړاو د نامعلومه کسانو لخوا په می مياشت کې په مرګ وګواښل شوې، چې ملګري ملتونه يې اړ کړل د خونديتابه لنډمهاله اقدامات ترسره کړي. واکمنو چارواکو يوناما ته خبر ورکړل چې د دوی کسانو دا کار ندی کړی او دوی هڅه کوي عاملين يې پيدا کړي.

**ج. سيمه ايزه همکاري**

۲۲.	د واکمنو د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، عبدالغني برادر د می له ۱۵ تر ۱۸ نېټې پورې، د کازان شپاړسم اقتصادي فورم کې د ګډون په موخه روسيې ته لاړ، چې دواړو هېوادونو د سوداګرۍ، ترانسپورت، هوايي چلند او انرژۍ په برخو کې د همکارۍ پنځه تړونونه لاسليک کړل. د واکمنو د عدليې وزير عبدالحکيم شرعي د می په ۱۶ نېټه په روسيه کې د سينټ پيټرزبرګ

دیارلسم حقوقي فورم کې ګډون وکړ، چې نوموړي پکې د حقوقي سیستم اصلاحاتو او نړیوالې همکارۍ په اړه وینا وکړه. د واکمنو د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي د مې له ۱۷ څخه تر ۱۹ نېټې پورې د ایران په اسلامي جمهوریت کې د تهران ډیالوګ فورم کې ګډون وکړ او هلته یې د اقتصادي همکارۍ او سیمې د امنیت په اړه له ایراني چارواکو سره خبرې اترې وکړې. د واکمنو د بهرنیو چارو وزارت مالي او اداري معین، محمد نعیم په ازبکستان کې د سیمه ایز اتصال او اقتصادي همکارۍ په اړه د بحث په موخه د مرکزي او سویلي آسیا د اتصال په اړ د ترمذ ډیالوګ په لومړنۍ غونډه کې ګډون وکړ. همدارنګه د واکمنو د اوبو او انرژۍ وزیر، عبدالطیف منصور د مې له ۱۳ تر ۱۵ نېټې پورې په تاشکند کې د ازبکستان د نړیوالې انرژۍ په پنځم کنفرانس کې ګډون وکړ. د واکمنو د صنعت او سوداګرۍ وزیر، نورالدین عزیزي د جون له ۱۰ تر ۱۳ نېټې پورې د تاشکند د نړیوالې سوداګرۍ په څلورم فورم کې ګډون وکړ. د واکمنو د ریاست الوزراء اداري مرستیال، عبدالسلام حنفي د صنعت او سوداګرۍ وزیر او د بهرنیو چارو وزارت مالي او اداري معین په ملتیا، د جون له ۱۷ تر ۲۱ نېټې پورې د چین په کونمینګ کې د چین-سویلي آسیا نندارتون کې ګډون کړ. د واکمنو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر، عطاء الله عمري د جون په ۱۹ نېټه په روسیه کې د سینټ پټرزبرګ نړیوال اقتصادي فورم کط ګډون وکړ. د واکمنو د بهرنیو چارو وزیر د جون په ۲۱ او ۲۲ نېټه د ترکیې په استانبول ښار کې د اسلامي همکارۍ سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو شورا په غونډه کې ګډون وکړ. د واکمنو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د جولای په ۳ او ۴ نېټه د آذربایجان په خانکندي کط د اقتصادي همکاریو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې ګډون وکړ، او هلته یې د مرکزي آسیا هېوادونو له استازو او آذربایجان سره د اقتصادي همکارۍ د لا زیاتولو په موخه دوه اړخیز تړونونه لاسلیک کړل. د واکمنو د ټولګټو وزارت معین، محمد اسحق صاحبزاده د جولای په ۱۳ نېټه په بیجنګ کې د چټک سرعت ریل په اړه د ریل پټلیو نړیوال کانګرس دولسمه نړیواله غونډه کې ګډون وکړ.

۲۳. د قزاقستان د بهرنیو چارو وزیر مراد نورتلیف د جولای په ۱۰ او ۱۱ نېټه کابل ته سفر وکړ او هلته یې د اقتصادي همکارۍ، سوداګرۍ، کرنې او تورغونډۍ-هرات ریل پټلۍ پروژې په هکله د بحث او خبرو اترو په موخه د واکمنو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د واکمنو بهرنیو چارو وزیر سره ولیدل. د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر، بختیار سعیدوف د ۲۰۲۵ کال د جولای په ۱۷ نېټه په کابل کې د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر، اسحق ډار سره وکتل او له واکمنو چارواکو سره یې د افغان ټرانس ریل پټلۍ د امکان سنجونې مطالعاتو د پیلولو په برخه کې درې اړخیز تړون لاسلیک کړ. ازبک او پاکستاني وزیرانو د خپلو کتنو په لړ کې د واکمنو رئیس الوزراء، محمد حسن اخُند، بهرنیو چارو او کورنیو چارو وزیرانو سره وکتل. د پاکستان د کورنیو چارو وزیر سید محسن نقوي د جولای په ۲۰ نېټه په کابل کې د واکمنو له کورنیو چارو وزیر سره وکتل او د همکارۍ پر پیاوړتیا یې خبرې اترې وکړې. د ازبکستان د امنیتي خدماتو له رئیس، ډګر جنرال باخودیر قربانوف د جولای په ۲۲ نېټه په کابل کې د واکمنو له کورنیو چارو او ملي دفاع وزیرانو سره وکتل او پر دوه اړخیزو امنیتي همکاریو یې بحث او خبرې اترې وکړې. د چین د بهرنیو چارو وزیر، وانګ یي او د پاکستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو وزیر د درې اړخیزې همکارۍ زیاتولو په اړه د بحث په موخه په کابل کې غونډه وکړه، او چینایي او پاکستاني وزیرانو د واکمنو چارواکو د کابینې غړو سره هم دوه اړخیزه لیدنه وکړه.

۲۴. ګل حسن، د جولای په ۳ نېټه د واکمنو چارواکو لخوا په روسیه کې د افغانستان سفیر په توګه وټاکل شو او د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزارت معین، اندري روډینکو ته یې خپل باورلیک وسپاره. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت لخوا خپرې شوې اعلامیې پر بنسټ، "د افغانستان د اسلامي امارت د حکومت په رسمیت پیژندنه به د دواړو هیوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې ګټوره دوه اړخیزه همکاري لا زیاته کړي".

۲۵. یوناما لا هم د سیمه ایزې همکارۍ، په کابل کې میشتو ډیپلوماټیکو ماموریتونو سره غونډې جوړولو او له لیدونکو پلاویو سره خبرو اترو او اړیکو له لارې لا هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي څو د سیمې په اقتصاد کې د افغانستان یوځای کېدو ته وده ورکړي او بشري مرستې لا زیاتې کړي.

**دریم: بشري حقونه**

۲۶.        ناچاوده توکي لا هم د ملکیانو، تر ډېره کوچنیانو، ژوند ته زیان رسوي. د راپور ورکونې مودې پر مهال، ټولټال ۸ ملکیان چې دوه سړي، درې انجونې او درې هلکان پکې شامل دي، وژل شوي او ۴۵ تنه نور چې ۱۰ سړي، ۹ ښځې، ۸ انجونې او ۱۸ هلکان پکې شامل دي، ټپیان شوي دي.

۲۷.        د پاکستاني امنیتي ځواکونو او د واکمنو امنیتي ځواکونو ترمنځ پر پوله د وسله وال تاوتریخوالي په پایله کې ملکي تلفات رامنځته شوي دي. د مې ۲۹ نه تر جولای ۲۰ نېټې پورې په هلمند او کونړ ولایتونو کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو لخوا د سپکو وسلو او هاوان فیرونو په پایله کې د یوې انجلۍ په ګډون شپږ تنه ټپیان او دوه هلکان ووژل شول. په افغانستان کې د پاکستان سفارت په یوه لیکلې اعلامیه کې خبر ورکړ چې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا پر پوله د "بې دلیله او بې توپیره" ډزو له امله د "ملکي وګړو" په ګډون، پاکستاني لوري ته تلفات اوښتي دي، چې پاکستان یې "غبرګون ښودلو ته اړ شوی". سفارت دا هم په ګوته کړې چې پاکستان "د پارونو په وړاندې له زغم څخه کار اخیستی" او د "خبرو اترو او همکارۍ" لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

۲۸.        یوناما د راپور ورکونې مودې پر مهال، د پخواني حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د مخکنیو غړو پنځه د وژنو، یوه د خپلسرې نیونې او توقیف او درې د ربړونې او ناسم چلند پېښې ثبت کړي دي.

۲۹.        یوناما د جولای په ۲۴ نېټه د "خوندي ځای نشته: افغانستان ته د اجباري راستنو شوو کسانو پر وړاندې د بشري حقونو خطرونه" تر سرلیک لاندې راپور خپور کړ، چې پکې د هغو کسانو قضیې مستند شوي چې په جبري توګه افغانستان ته راستنه شوي او د دوی د ځانګړتیاوو او سوابقو پر بنسټ د بشري حقونو جدي سرغړونې یې تجربه کړي دي. په دغه راپور کې موندل شوې چې، ښځې او انجونې، د مخکني حکومت چارواکي، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو مخکني منسوبین، د مدني ټولنې فعالان، د بشر حقونو مدافعین او خبریالان د بشري حقونو سرغړونو له لوی خطر سره مخ دي. واکمنو چارواکو د دې راپور د زیاتو موندلو په ردولو سره دغه راپور ته غبرګون ښودلی او ویلي یې دي چې ټول راستنېدونکي افغانان د ۲۰۲۱ کال د عمومي بښنې څخه برخمن دي.

۳۰.        یوناما د راپور ورکونې مودې پر مهال، د لږ تر لږه ۶۳ تنو (۴۷ نارینه او ۱۶ ښځینه) ته د تعزیري مجازاتو ورکول مستند کړي دي.

۳۱.        د واکمنو چارواکو لخوا په بدخشان ولایت کې د کوکنارو د له منځه وړلو پر وړاندې د اعتراض کوونکو د خپلسري نیونې او توقیف، ناسم چلند او وژنې موارد ثبت شوي دي. د دغه ولایت په ارګو ولسوالۍ کې د مې په پنځمه نېټه د واکمنو امنیتي ځواکونو لخوا شاوخوا ۲۰ اعتراض کوونکي ونیول شول. د واکمنو امنیتي ځواکونو په جرم ولسوالۍ کې د مې په ۲۵ نېټه پر اعتراض کوونکو ډزې وکړې، چې په پایله کې یې یو تن ووژل شو او شپږ تنه ټپیان شول، او د جون په ۱۹ او ۳۰ نېټه یې په خاش ولسوالۍ کې پر اعتراض کوونکو ډزې وکړې، چې له امله یې اته تنه مړه او یوه نجلۍ او ۲۱ سړي ټپیان شول. همدارنګه د واکمنو امنیتي ځواکونو د جون په ۳۰ نېټه وژل شوو کسانو د تدفین پر مراسمو ډزې وکړې، چې په پایله کې یې یو کس مړ او ۱۲ تنه نور ټپیان شول. د واکمنو د بدخشان والي د جولای په لومړۍ نېټه په یوه رسنیزه مرکه کې تائید کړه چې د واکمنو امنیتي ځواکونو او معترضینو ترمنځ نښتو کې مرګ ژوبله اوښتې ده. نوموړي په یاد ولایت کې د معترضینو د کنټرول لپاره د نه وژونکو تجهیزاتو د کمښت یادونه وکړه.

۳۲.        واکمنو چارواکو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون پر بنسټ وضع شوو محدودیتونو تطبیق او تنفیذ زیات کړی دی. دوی پر سینګارتونونو باندې د بندیز پلي کولو ته دوام ورکړی، او اوس په پټه فعالیت کوي او په ځینو سیمو کې یې د محرم درلودلو شرط هم تطبیق کړی دی. په کندهار کې د مې میاشتې راهیسې، ښځینه روغتیايي کارکوونکې باید محرم او د واکمنو د عامې روغتیا ریاست لخوا صادر شوي رسمي هویت کارت ولري، چې د راپورونو له مخې د غوښتنلیک یوه پیچلې پروسه لري او څو اونۍ وخت نیسي. ښځې پوهنتون ته د داخلیدو ازموینې له وروستي پړاو څخه ایستل شوې وې. په ځینو ولایتونو کې د لباس اصولو او مقرراتو جدي پلي کول زیات شوي. په هرات ښار کې له مې میاشتې راهیسې، د ښځو لپاره د چادري اغوستل (د سر څخه تر پښو پورې د ټول بدن پوښل) لازمي شوي دي، چې په نه رعایتولو سره یې توقیف کوي او

بازارونو او عامه ترانسپورت ته یې لاسرسی محدودوي. د کابل ښار په بیلابیلو سیمو کې د جولای په میاشت کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست محتسبینو او پولیسو لږ تر لږه ۶۰ ښځې او انجونې د حجاب لارښوونو څخه د سرغړونې په تور ونیولې.

۳۳.	یوناما بیا هم د جنسیتي تاوتریخوالي او په اجباري ودونو کې د واکمنو چارواکو د لاس لرلو پېښې ثبت کړي دي، چې دا کار د طالبانو د مشر لخوا د دغه ډول ناسمو دودونو بندوونکي د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر ۳ نېټې فرمان څخه سرغړونه ده. د ماشومانو او وسله والو شخړو په اړه د ځانګړي او ارزونې لپاره د افغانستان په کچه کاري ډلې د اپریل لومړۍ نېټې څخه تر جون ۳۰ نېټې پورې شاوخوا ۱۹۱ ښکاره سرغړونې ثبت کړي دي، چې د ۲۲ انجونو په ګډون، لږ تر لږه ۱۳۰ ماشومان اغېزمنوي. تر ټولو ستره او ښکاره سرغړونه یې وژل او ټپي کول دي.

۳۴.	د جرمونو نړیوالې محکمې د جولای په ۸ نېټه له محاکمې مخکې دویمې خونې د طالبانو د مشر او د اوسني قاضي القضات عبدالحکیم حقاني د نیولو امر صادر کړ، ځکه چې د دوی پر وړاندې واقعي او معقول دلایل موندل شوي چې په باور یې دوی د انجونو، ښځو او نورو هغو کسانو پر وړاندې چې د جنډر، جنسیتي هویت یا اظهار په اړه د طالبانو پالیسۍ سره سمون نه لري، او په سیاسي برخو کې د هغو کسانو پر وړاندې چې د "نجونو او ښځو متحدین" ګڼل کیږي، د انسانیت ضد جرمونو مرتکب شوي دي. د واکمنو ویاند په هماغه ورځ  د دې محکمې د پرېکړې په ځواب کې وویل چې، دوی دغه محکمه په رسمیت نه پیژني او ټینګار یې وکړ چې د هغې پریکړې "د اسلامي امارت په اراده او دریځ هیڅ اغېزه نلري".[1]

۳۵.	واکمنو چارواکو د بیلابیل ډوله اظهاراتو او څرګندونو د تنظیم او کنټرول لپاره لارښوونې کړي دي. د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په مې میاشت کې اعلان وکړ چې، دوی ټولنیزې رسنۍ څاري څو د هغې محتوی مخه ونیسي چې د دیني ارزښتونو سره په ټکر کې وي یا نورو ته سپکاوی او یا توکمیز توپیري چلند څخه ډکې څرګندونې وي. د واکمنو د اطلاعاتو او کلتور وزارت له دې اعلان وروسته څو کسان د هغو موادو د خپرولو له امله نیولي دي چې دوی یې نامناسب ګڼي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت د جون په ۲۹ نېټه یو لارښود معرفي کړ چې سیاسي بحثونه تنظیموي او د نورو حکمونو تر څنګ غوښتنه کوي چې سیاسي شنونکي باید د شرعي قانون سره سم خبرې وکړي او د وزارت لخوا صادر شوی رسمي هویت کارت ترلاسه کړي څو وکولای شي په رسنیو کې د سیاسي شنونکو په توګه خبرې وکړي.

۳۶.	واکمنو چارواکو د هغو مذهبي دودونو او کړنو بندولو ته دوام ورکړی چې د دوی د فکر او نظر سره په ټکر کې دي. د راپورونو له مخې، د شیعه ډلو پر وړاندې د بریدونو د مخنیوي لپاره د احتیاطي اقداماتو په توګه د مختلفو امنیتي تدابیرو له امله د جولای په لومړیو کې د عاشورا مراسم محدود شول. یوناما په هرات ولایت کې د عاشورا اړوند محدودیتونو څخه د سرغړونې په تور د واکمنو چارواکو لخوا د خلکو نیولو او ناوړه چلند پېښې ثبت کړې. هغه کسان چې د الحاد یا له اسلام پرته د نورو مذهبونو د ترویج په تور تورن وو، د واکمنو چارواکو لخوا په خپل سر نیول شوي وو. په بدخشان ولایت کې د جولای په څلورمه نېټه ناپېژاندو کسانو د اسماعیلیه ډلې یو مشهور شخصیت په ډزو وواژه.

۳۷.	د واکمنو د زندانونو چارو د سمون اداري رئیس د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي سره د جون په ۵ نېټه په یوه غونډه کې، په ټول هېواد کې زندانونو ته د دې ماموریت د دوامداره لاسرسي ډاډمنولو ژمنه تازه کړه. د واکمنو د زندانونو چارو سمون اداري د جولای په نیمایي کې راپور ورکړ چې د زندانیانو شمېر چې د اپریل په پای کې له ۲۷۰۰۰ تنو څخه زیات و، شاوخوا ۲۹۵۰۰ تنو ته رسېدلی دی، چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته تر ټولو زیات شمېر ګڼل کېږي. په دغه شمېر کې ۲۶۰۰۰ تنه نارینه چې ۸۸،۶ سلنه؛ ۱۸۰۰ ښځې چې ۶،۲ سلنه؛ او ۱۵۰۰ تنه ځوانان دي چې ۵،۲ سلنه جوړوي. د زندانیانو د شمېر زیاتوالي لامل تر یوه بریده دا دی چې، د واکمنو محکمې په عمومي توګه په کوچنیو جرمونو او مالي شخړو کې ښکیلو او تورنو کسانو په ګډون، پر جرمونو د تورنو خلکو لپاره د محاکمې دمخه د توقیف امر کوي.

[1] دا لینک https://rta.af/en/statement-by-the-spokesperson-of-the-islamic-emirate-regarding-the-ruling-of-the-so-called-international-court/. وګورئ.

۳۸.	د جنسيتي مساوات او د ښځو ځواکمنتيا لپاره د ملګرو ملتونو اداري يا د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداري (UN-Women) د جون په ۱۷ نېټه د *جنسيت شاخص ۲۰۲۴: افغانستان*[2] تر عنوان لاندې خپل راپور خپور کړ. دا راپور د انساني پرمختګ په پنځو مهمو اړخونو: روغتيا؛ تعليم؛ کار او مالي پوهې؛ په تصميم نيونه کې ګډون؛ او له تاوتريخوالي څخه ازادي، کې د افغان ښځو او نجونو د وضعيت د ارزونې لپاره يو پياوړی معيار وړاندې کوي. د دې راپور موندنې ښيي چې افغان ښځې او نجونې په نړۍ کې د ځواکمنتيا ترټولو سخت کمښت او د جنسيت ترټولو ستره تشه تجربه کوي، چې ښځې يوازې د خپل ظرفيت ۱۷ سلنه ترلاسه کوي او په ټولو اندازه شويو برخو کې د ښځو او نارينه وو د پايلو ترمنځ ۷۶ سلنه توپير شته. د واکمنو چارواکو لخوا لګول شوي موجوده محدوديتونه د ښځو حقونه او ورتياوې له منځه وړي، چې په تيرو لسيزو کې شوي پرمختګونه شاته غورځوي. د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداري په دغه راپور کې هغه څرنګوالی بيان کړی، چې دا مسيرونه کولای شي د افغانستان د پراختيا لاره او د پايداره پراختيايي موخو ترلاسه کولو په لور د هغې پرمختګ نور هم اغېزمن کړي.

**څلورم:  اقتصادي پراختيا، د تمويل کوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتوب**

۳۹.	د نړيوال بانک لخوا د جولای په پای کې د خپل اقتصادي راپور پر بنسټ، په ۲۰۲۴ مالي کال اټکل شوې ۲،۵ سلنه اقتصادي وده د دوامداره بېوزلۍ، پراخې بې کارۍ او د نفوسو د چټکې ودې په پام کې نيولو سره د ژوند د شرايطو ګټور ښه والي لپاره بسنه نه کوي، چې له بهر څخه د پام وړ شمېر افغانانو په راستنېدو سره په ۲۰۲۵ کال کې لوړه شوه. اقتصادي ليدلوری د اقتصادي انزوا، مالي سرچينو ته محدود لاسرسي او دوامداره جوړښتي ننګونو له امله محدود شوی دی. د مارچ له وروستيو تر د مۍ تر وروستيو ورځو پورې، ۴۲۲ ميليارده افغانۍ (۶۰۵ ميليون ډالرو معادل) عوايدو راټول شوي، چې د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله ۱۳ سلنه زياتوالی ښيي، چې اصلي لامل يې د مالياتي عوايدو لوړوالی چې پکې د ګمرکي تعرفو، محصولونو او فيسونو زياتوالی، او همدارنګه د غير مالياتي عوايدو زياتوالی او په جزوي توګه د ترانسپورت او توکو په برخه کې د مالي زياتوالی شامل دي. که څه هم افغانۍ د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې يو ډالرو په ۶۹،۴ افغانۍ تبادله کېده او ثابته پاتې شوه، انفلاسيون د ۲۰۲۳ کال د اپريل مياشتې راپدېخوا د لومړي ځل لپاره د مۍ په مياشت کې لوړ شو، چې ۰،۵ سلنې ته ورسيد، چې د تيرو مياشتو د انفلاسيون کچې په پرتله لوړ دی.

۴۰.	افغانستان لا هم د دوامداره سوداګريز کسر سره مخ دی. په مۍ مياشت کې سوداګريز کسر د کال په کال شمېرو پر بنسټ، نږدې ۴۰ سلنه وړ و. د صادراتو ارزښت د ۲۰۲۴ کال د ورته مودو په پرتله، د ۲۰۲۵ کال په مۍ مياشت کې ۸۲،۴ ميليون ډالرو ته رسېږي چې ۲۰ سلنه، په جون مياشت کې ۶۵،۸ ميليون ډالره چې ۲۲،۲ سلنه راکم شوي دي. د دې کمښت ستر لامل د تبادلې د نرخ زياتوالی، د تعرفو لوړوالی او سيمه ايزه بې ثباتي ښودل شوی دی. د وارداتو ارزښت په جون مياشت کې ۹۴۲،۸ ميليونو ډالرو ته رسېږي او ۹،۹ سلنه زيات شوي، چې په مۍ مياشت کې د کال په کال شمېرو پر بنسټ ۳۰ سلنه زياتوالی ښيي. غير رسمي اقتصاد لا هم افغانستان د ټوليز اقتصاد د پام وړ برخه جوړوي او لامل يې د بې کارۍ لوړه کچه، د بانکي نظام پر وړاندې ننګونې، بې ځايه کېدنه، نامشروع اقتصادونه، غير رسمي مالي خدمتونه او د ګاونډيو هېوادونو په ګډون، له هېوادونو سره د ټيټې کچې کرنه او سوداګري ده.

۴۱.	د طالبانو مشر په جون مياشت کې د افغانستان پنځه کلنه ملي پراختيايي ستراتيژي تصويب کړه، چې د دوی په دغه ډول لومړنۍ ستراتيژۍ کې پر حکومتولۍ، نړيوالو اړيکو، امنيت او عامه نظم، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ باندې تمرکز شوی دي. واکمنو چارواکو د واکمنو اقتصادي کميسيون د جون په ۲۱ نېټه په خپله نوبتي غونډه کې د اسلامي اقتصادي نظام پر بنسټ پاليسي تصويب کړه، چې پکې پانګونه، توليد، د دندو رامنځته کول او د بېوزلۍ کمول لومړيتوب لري. د جولای په ۱۸ نېټه د ۶۸۱ کيلومتره افغان-ټرانس ريل پټلۍ لپاره د امکان سنجونې مطالعات پيل شول.

---

[2] دا www.unwomen.org/en/digital-library/publications/2025/06/afghanistan-gender-index-2024. وګورئ.

۴۲.     د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د پور د تضمین آسانتیا، د ملګرو ملتونو د پانګې پراختیا صندوق او د افغانستان د پورونو د تضمین بنسټ سره په ګډه همکارۍ ۳۶۲۳ ورو، کوچنیو او د منځنۍ کچې متشبثینو او کاروباریانو ته ۹،۵ میلیونه ډالر پورونه ورکړل، چې دې ډلې یې ۹۸۱ ښځینه متشبثینې دي او د ښځو لپاره د ۲۴۳۴ کاري فرصتونو په ګډون، ۸۷۹۰ کسانو سره د کاري فرصتونو په برابرولو کې مرسته کوي.

۴۳.     یوناما، د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام او افغان خصوصي سکتور همکارو ادارو په ګډه ر جون په ۲۵ او ۲۶ نېټه په کابل کې یوه غونډه جوړه کړه څو په پاکې انرژۍ کې د پانګونو لپاره د سوداګرو لخوا سوداګرو سره مشارکتونو ته وده ورکړي او د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرامو لخوا پیل شوي د هېواد دننه، د زرغون اقتصاد د تمویل مرکز پرانیزي.

۴۴.     د ملګرو ملتونو د نغدو پیسو د محمولو د لېږد مرکز لا هم فعالیت کوي. یاد مرکز د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر جون ۳۰ نېټې پورې د ملګرو ملتونو ادارو لپاره ۳۶۰ میلیونه ډالر راوړي دي، او په عمومي توګه د بسپنه ورکوونکو او تائید شوو نا دولتي سازمانونو یا انجوګانو مالي تمویل یې کړی دی. له افغان بانکونو سره د معامله لرونکو بانکونو په اړیکو کې ښه والي سره د ملګرو ملتونو ادارې کولای شي په نسبي توګه خپلې نړیوالې لېږدونې له سره پیل کړي.

۴۵.     د افغانستان په اړه د لوړ پوړو چارواکو غونډه د جون ۱۶ او ۱۷ نېټو د اروپايي ټولنې په کوربتوب په بروکسل کې ترسره شوه، چې د غړو هېوادونو، اروپايي ټولنې، ملګرو ملتونو، نړیوالو مالي بنسټونو، افغان او نړیوالو مدني ټولنو او خصوصي سکتور استازو پکې ګډون کړی و او د سیاسي او بشري وضعیت، اساسي اړتیاوو او معیشت اړوند بدلونونو په هکله یې بحثونه وکړل. بسپنه ورکوونکو له افغانانو سره خپلې کړې ژمنې بیا تازه کړې، خو یادونه یې وکړه چې د نړیوالو پرلپسې کړکیچونو او د بسپنه ورکوونکو هېوادونو لخوا د ځانګړو شوو بهرنیو مرستو د کمښت له امله، د مالي تمویل او بودیجې کچه د پام وړ راکمه شوې ده.

۴۶.     د افغانستان لپاره د ځانګړي اماني صندوق د رهبرۍ کمېټې د جون په لسمه نېټه تر ۲۰۲۷ کال پورې د دې صندوق د چارو د ملاتړ لپاره ۳،۶۴ میلیونه ډالر تصویب کړل، او د راستنېدنې سیمو ته د بشپړې پراختیايي مرستې لپاره د ګډ کار تر نامه لاندې مشترکه پروژه یې منظور کړه، چې رسماً د جولای په ۲۸ نېټه پرانیستل شوه. د دې کار موخه په کندز او بغلان ولایتونو کې د بې ځایه کېدنې له کبله اغېزمنو ټولنو کې له ۵۷۰۰۰ کورنیو سره مرسته کول دي او ټولیز لګښت یې ۲۳،۰۱ میلیون ډالره دی؛ چې ۱۵،۸۰ میلیونه د صندوق لخوا او ۷،۲۱ میلیونه د نورو تمویلي سرچینو څخه ورکول کېږي.

۴۷.     یوناما په ټول هېواد کې د چاپیریال له امله رامنځته شوې روانې بې ځایه کېدنې مشاهده کړې، چې د ۳۴ ولایتونو له ډلې په ۱۹ ولایتونو کې یې لامل وچکالي ښودل شوې ده. د کډوالۍ نړیوال سازمان د جون په ۱۶ نېټه یو راپور خپور کړ، چې پکې یادونه شوې چې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ څخه تر مې میاشت پورې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه کېدنو اصلي لامل چاپیریالي خطرات دي. یوناما په سویلي، ختیځ، شمالي او مرکزي افغانستان کې هغه پېښې ثبت کړي چې پکې د چاپیریال له امله بې ځایه کېدنو د منابعو پر سر ځايي شخړې او فشارونه لا زیات کړي، په داسې حال کې چې په ښاري سیمو کې د ځمکې لاندې اوبو کمښت لا هم مخ په زیاتېدو دی. د واکمنو د چاپیریال ساتنې ملي ادارې په جون میاشت کې له یوې ملي نادولتي مؤسسې سره په ګډه د ۲۰۱۲ کال راهیسې په افغانستان کې د"چاپیریال وضعیت" لومړنۍ ارزونه ترسره کړه.

۴۸.     یوناما او د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د خصوصي سکتور کاري ډلې په چوکاټ کې په ګډه، له افغان او نړیوالو ذینفع شریکانو سره تخنیکي مشورې ترسره کړې څو د خصوصي سکتور د پایښت او پیاوړتیا لپاره د باور جوړونې اقدامات په ګوته کړي. د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام په مشرۍ د همغږۍ د یو میکانیزم په توګه یوه تخنیکي کاري ډله جوړه شوه څو په افغانستان کې د ښځو په موجودیت او د اسلامي مالي تمویل په تړاو اداري ظرفیت رامنځته کولو ته په لومړیتوب ورکولو کې، د کوچنیو پورونو د نویو مؤسسو د جوړولو ملاتړ وکړي.

۴۹.     یوناما د جولای په لومړۍ نېټه په دوحه کې د خصوصي سکتور کاري ډلې دویمه غونډه جوړه کړه، چې د غړو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو او همدارنګه د واکمنو چارواکو، افغان خصوصي سکتور همکارو شریکانو او ښځو، د ملګرو ملتونو ادارو او نړیوالو مالي بنسټونو استازو او ګډونوالو پکې ګډون کړی و. په دغه غونډه کې د افغانستان خصوصي سکتور پر پیاوړتیا بحثونه

وشول او دا یې په ګوته کړه چې په اقتصاد کې د ښځو ونډه او د انجونو پوهه اړینه ده. ګډونوالو همدا راز د دې کاري ډلې څخه ملاتړ څرګند کړ او د ښځینه متشبثینو له لارې چې د ودې او پایدارې پراختیا کلیدي یو کلیدي عامل دی، د افغان خصوصي د پرمختګ لپاره پر ګډه همکارۍ او کار باندې یې ټینګار وکړ.

۵۰.	د افغانستان د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې څخه د خوندیتوب شبکې د راپور ورکونې مودې پر مهال دوه کلنه بشپړه تمویل شوې او بیاکتل شوې ستراتیژي تصویب کړه. د دغه ستراتیژۍ په لومړیتوبونو کې ګډه مدافعه، د خطر کمول، ظرفیت لوړونه او ساحوي څارنه، او ورسره د ښځو او ماشومانو پر خوندي ساتلو تمرکز شامل دي.

## پنځم: بشري مرستې

۵۱.	افغانستان لا هم د بېوزلۍ، خوړو نه تأمین، خوارځواکۍ، پرلپسې طبیعي پېښو، کمزروي اقتصاد او اړینو خدمتونو ته محدود لاسرسي په برخو کې له دوه چنده ننګونو سره مخ دی. د مالي تمویل کمښتونه او نیمګړتیاوې د دې لامل شوي چې د بشري مرستو همکار شریکان خپلې مهمې چارې راکمې او یا وځنډوي، چې په دې سره میلیونونه خلک له مرستو بې برخې کېږي. د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې تر جولای ۲۶ نېټې پورې، د اټکل له مخې افغانستان ته ۱۶۲۷۰۰۰ افغانان راستانه شوي، چې په اجباري توګه او د ناوړه حالاتو له امله راتللو ته اړ شوي چې له ډلې یې ۱۲۸۰۰۰۰ له ایران او ۳۴۸۰۰۰ له پاکستان نه خپل هېواد ته راستانه شوي دي. واکمنو چارواکو د راستنېدونکو د مدیریت په برخه کې د مرستې سرچینې لکه؛ نغدي مرستې، بایومتریک ثبت او د لوړې کچې راستنېدونکو ولسوالیو کې د ځمکو تثبیتول ځانګړې کړي دي. په جولای میاشت کې په پوله کې د لومړنیو مرستو لپاره د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې نه د خوندیتوب په ګډون، د ملګرو ملتونو د بیړني غبرګون مرکزي صندوق څخه ۱۰ میلیونه ډالر ځانګړې شوي دي.

۵۲.	د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر د جولای له ۱۹ څخه تر ۲۱ نېټې پورې له افغانستان نه لیدنه وکړه، چې په ترڅ کې یې نوموړي له واکمنو چارواکو، ذینفع شریکانو او همکارو ادارو او په اسلام قلعه پوله کې له راستنېدونکو کډوالو سره وکتل. نوموړي همدا راز د بیړنیو بشري اړتیاوو او اوږدمهاله بیا یوځای کېدو او ادغام لپاره پر نړیوالې مرستې او ملاتړ ټینګار وکړ. هغه له دې وروسته ایران ته سفر وکړ څو له چارواکو او افغان کډوالو سره خبرې وکړي او د سیمه ایز ډیالوګ او پایداره حل لارو غوښتنه یې وکړه.

۵۳.	راستنېدونکو کډوالو په رسمي پولو کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر لخوا په ترسره شوو مرکو کې په پناه ورکوونکو هېوادونو کې او د راستنېدنې پر مهال د ځورونې، توقیف او شوکو ادعاوې کړي دي؛ په تېره بیا د ښځینه سرپرستانو لخوا اداره کېدونکې کورنۍ او له نر پرته یوازې ښځې د راپورونو له مخې زیان منونکې وې. په ننګرهار، کندهار او هرات ولایتونو کې، په بشردوستانه کړنو کې د جنسیت کاري ډلې لخوا جوړو شوو ګروپي بحثونو کې د سرپناه، معیشت او انجونو لپاره د زده کړو پر بیړنۍ اړتیا ټینګار شوی دی. د ښځو ګډون له دې امله راکم شوی دی چې د غبرګون ظرفیت له خپلې کچې خورا راکم شوی او مالي تمویل قطع شوی دی. دغې ادارې له جنورۍ څخه تر جون میاشتې پورې ۱۷۹۱۲۱ کسانو ته د خوندیتابه خدمتونه وړاندې کړي. همدارنګه د کډوالۍ نړیوال سازمان د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر جولای ۱۲ نېټې پورې له ۲۶۵۸۸۸ بې اسنادو راستنو شوو کډوالو سره هېواد ته رارسېدو وروسته مرستې او روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي دي. د بشري مرستو همکارو شریکانو له جنورۍ څخه تر جون پورې له ۱۱،۵ میلیونه خلکو سره لږ تر لږه یو ډول مرسته او په درېو سکتورونو کې لږ تر لږه دوه میلیونه خلکو سره مرسته کړې ده. په دوی کې ۸،۱ میلیونه هغه خلک دي چې د خوراکي موادو او معیشت، ۴،۴ میلیونو خلکو سره د روغتیا، ۴،۴ میلیونو خلکو سره د اوبو، نظافت او حفظ الصحې، ۲،۹ میلیونو ماشومانو او میندواره یا شیدې ورکوونکو مېرمنو سره د تغذیې، ۲ میلیونو خلکو سره د خوندیتوب، ۷۰۲۰۰۰ ماشومانو سره د تعلیم او تربیې او ۳۷۸۰۰۰ خلکو سره د بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکو په برخو کې مرستې شوي دي.

۵۴.	لوږه لا هم د هېواد زیاته برخه اغېزمنوي؛ چې د می او اکتوبر میاشتو ترمنځ موده کې شاوخوا ۹،۵ میلیونه خلک د اټکل له مخې په شدیده کچه د خوړو له نشتون سره مخ و (د خوړو د تأمین د مرحلو د بشپړې ډلبندۍ ۳ مرحله یا له دې

پورته). په دغه شمېر کې ۱،۶ میلیونه یې د خوړو د نشتون له بیړنۍ کچې (۴ مرحلې) سره مخ دي. نړیوال خوراکي پروګرام د اپریل او جون ترمنځ موده کې له اته (۸) میلیونه خلکو سره د خوراکي توکو، تغذیې، نغدو پیسو او معیشت په برخو کې مرسته کړې او ۵۰۴۰۰ مټریک ټنه خوراکي توکي او ۳۱،۳ میلیونه نغدې پیسې یې پر دوی ویشلي دي. یاد پروګرام د بودیجې کمښت له امله اوس د ۶ میلیونو خلکو څخه چې د پلان له مخې به دوی ته رسېدنه کوي، یوازې یو (۱) میلیون خلکو ته رسېدنه کولای شي، او د خوارځواکۍ د درملنې پروګرام یې ۶۰ سلنه کم کړی چې له کبله یې ۱،۲ میلیونه له پنځو کالو کم عمره ماشومان او ۵۰۰۰۰۰ ښځې له درملنې پاتې کېږي.

.۵۵ د روغتیا نړیوال سازمان د اپریل څخه تر جون پورې، ۴۳۶۰۰ د شري، ۱۴۰۰۰ د ملاریا، ۴۶۴۰۰ د حاد اسهال، ۵۱۳ د ډینګې مشکوکې او ۶۵۰ د کانګو تبې ناروغۍ پېښې ثبت کړي دي. د جولای تر ۲۰ نېټې پورې ۴۲۲ روغتیايي مرکزونه د مالي تمویل نشتون له امله تړل شوي دي، چې په ۳۰ ولایتونو کې ۳،۰۸ میلیونه خلک زیانمنوي. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق په ملاتړ روغتیايي او د جنسیتي تاوتریخوالي خدماتو مرکزونه هم تړل شوی دي. د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق یا یونیسف د اړینو روغتیايي خدمتونو په وړاندې کولو سره ۱۹ میلیونو ماشومانو ته رسېدنه کړې، ۱۲ میلیونو ماشومانو ته یې د پولیو واکسین کړي، ۸۴۲۷۸۹ ماشومانو ته یې مایکرونټرینټ پوډر ورکړي او له پنځو کلونو ښکته د شدیدو کم وزنه ۱۱۴۹۴۲ ماشومانو درملنه یې کړې ده. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د نري رنځ، ایچ آی وي ایډز او ملاریا ۸۴۴۸۴۱ ناروغانو ته خدمات برابر کړي دي.

.۵۶ د روغتیا نړیوال سازمان له اپریل څخه تر جون میاشتې پورې، د خپل روحي صدمې پروګرام له لارې له ۲۰۴۹۹ مراجعینو سره مرسته کړې ده. همدارنګه په ورته موده کې، په ۱۴۷ بستر لرونکو روغتیايي مرکزونو او ۳۲۸۷ بې بستره روغتیايي مرکزونو کې په شدیدې حاد خوارځواکۍ د اخته ۱۵۴۶۴۳ پنځو کلونو ښکته ماشومانو درملنه شوې ده او په منځنۍ حاد خوارځواکۍ اخته له پنځو کلونو ښکته ۳۴۳۴۸۳ ماشومانو او ۲۴۳۹۸۲ میندوارو او شیدې ورکوونکو مېرمنو سر د تقویتي تغذیې برابرولو پروګرام له لارې مرسته شوې ده.

.۵۷ د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري له اپریل څخه تر جون پورې، په ۳۲ ولایتونو کې له ۵۹۵۰۷۰ کسانو سره مرسته کړې، د اقلیم له پلوه څېرکې کرنې لپاره یې ۱۶۱ ټولنیزې ډلې جوړې کړي او د ابیارۍ ۱۹ پروګرامونو په چوکاټ کې یې ۲۸۴ جوړښتونه بیارغولي، ۲۲۱ هکتاره ځمکه یې خړوبه کړې، ۲،۱۹ میلیونه شخوند وهونکي څاروي یې د ویروسي ناروغۍ په مقابل کې واکسین کړي او په ۱۱ ولایتونو کې یې ۴۴۹۲۲ هکتاره ځمکه د مهاجم ملخانو له کنټرول څخه پاکه کړې ده.

.۵۸ د جنورۍ او جون ترمنځ موده کې د لاسرسي اړوند ۴۸۹ پېښو راپور ورکړل شوی دی، چې د ۲۴۵ بشردوستانه فعالیتونو د ځنډېدو لامل شوې. سره له دې چې دا شمېره د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله ۶۹ سلنه کموالی ښیي، خو لاسرسی لاهم ستونزمن دی. د واکمنو چارواکو لخوا په بشري فعالیتونو کې لاسوهنه د دغو پېښو ۷۳ سلنه جوړوي؛ ۱۲ سلنه یې د کارکوونکو او شتمنیو پر وړاندې تاوتریخوالی دی چې د بشردوستانه مرستو ۱۰۰ کارکوونکي هم پکې توقیف شوي، چې ۳۱ ښځې او ۱۲ د ملګرو ملتونو کارکوونکي پکې شامل دي؛ او ۱۹ سلنه یې د جنسیت اړوند محدودیتونو سره تړاو درلود، چې د مرستو جامع او اصولي رسولو مخه یې نیولې ده.

.۵۹ جنسیت په بشردوستانه کړنو کې کاري ډلې او د بشردوستانه لاسرسي کار ډلې لخوا په جون کې ترسره شوې سروې وموندله چې، یوازې ۴۶ سلنه سازمانونه د ښځینه او نارینه کارکوونکو په درلودلو سره بشپړ فعال دي. ښځینه کارکوونکي له زیاتېدونکو محدودیتونو سره مخ دي: ۲۳ سلنه یې له خپلو کورونو کار کوي چې د تېر ځل مارچ میاشت کې ترسره شوې سروې د ۱۲ سلنه په پرتله زیاتوالی ښیي؛ ۲۶ سلنه یې کار ته پر لاره له خپلو کارونو بندې شوي دي؛ او ۴۰ سلنه سازمانونه نور نشي کولای د محرم لګښتونه پوره کړي.

.۶۰ افغانستان د چاودېدونکو توکو له شتون څخه ډک دی چې په ۲۶۱ ولسوالیو نږدې ۳ میلیونه خلک زیانمنوي. د ۲۰۲۵ کال په جولای کې د ماین پاکۍ ټیمونو شمېر ۱۸۸ ته رسېده چې په ۲۰۲۴ کال کې په ورته موده کې د ۲۸۲ ټیمونو په پرتله کموالی ښیي. د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ماین پاکۍ تخنیکي څانګه د مالي تمویل د کمښت له امله د ډېرو کمو کارکوونکو او

کمرنګه مدیریت په درلودلو سره خپل فعالیت کوي. د افغانستان لپاره ځانګړي اماني صندوق د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدمتونو له لارې د تصفیې او خطر پوهاوي فعالیتونه تمویل کړي دي، چې په پایله کې یې د لغمان ولایت څخه ۱۶۷۸د جنګ جګړو څخه پاتې ناچاوده توکي ویستل شوي او له منځه وړل شوي او په لغمان او ننګرهار ولایتونو کې ۹۹۹ راستنو شوو کډوالو او ۹۹ داخلي بې ځایه شوو په ګډون، ۴۵۰۱ کسانو ته چې ۲۶۹۶ یې ماشومان دي، د ماینونو خطر د پوهاوي ۲۰۱ غونډې کړي دي.

۶۱. یونیسف له اپریل څخه تر جون پورې د اوبو سیستمونه ترمیم کړي دي، چې ۱۹۲۲۴۹ خلک ترې برخمن شوي او ۶۵۰۰۰ کورنیو سره یې نغدي مرستې کړې دي. له ۴۰۰۰۰۰ څخه زیاتو زیان منونکو د ښوونځي عمر درلودونکو ماشومانو محلي ټولګیو ته لاسرسی پیدا کړی دی.

۶۲. د پراخ بشردوستانه تنظیم او ترتیب د یوې برخې په توګه، د هېواد په کچه د بشري مرستو ټیم لخوا د بشري همغږۍ جوړښتونو بیاکتنه لا هم دوام لري څو ډاډ ترلاسه شي چې دوی د هدف لپاره مناسب دي، منظم شوي او د اوږدمهاله پروګرامونو جوړولو په لور د حرکت په ګډون، د زیاتېدونکو اړتیاوو سره برابرښت لري.

**شپږم: د نشه اي توکو سره مبارزه**

۶۳. د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر د جون په ۲۵ نېټه "د *افغانستان د نشه اي توکو معلوماتو پېژندنه: په افغانستان کې د لوړ خطر نشه اي توکو کارونه*"[3] تر نامه لاندې یو راپور خپور کړ چې پکې په هېواد کې د لوړ خطر لرونکو نشه اي توکو د کارونې مخ په زیاتېدونکي بحران یادونه شوې ده. د ۲۷۶۰ ښځو او ۲۱۵۰ ماشومانو په ګډون، شاوخوا ۲۷۰۰۰ کسان د نشه اي توکو د کارونې په عامه ځایونو کې نشه اي توکي کاروي، چې د یو پر پنځمې برخې څخه زیات یې بې کوره دي. یاد دفتر د خپل ۲۰۰۹ کال راټولو شوو معلوماتو د موندنو په پرتله،[4] د چرسو او تریاکو په استعمال کې د کموالي، د هیروئینو او محرکو درملو په کارونه کې د پام وړ زیاتوالي او د زرقي نشه اي توکو په کارونه کې د زیاتوالي یادونه کړې ده. د نشه اي توکو د زرق کوونکو ۷۵ سلنه ستنې په شریکه کاروي. که څه هم د سروې شویو کاروونکو له نیمايي څخه زیاتو څه نا څه درملنه ترلاسه کړې، خو باکیفیته او مناسبې درملنې ته لاسرسی، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې لا هم محدود دی. د کوکنارو یا اپینو بیې، په ځانګړې توګه په شمال ختیځ کې، په چټکۍ سره راټیټې شوي، چې د وچو اپینو د فی کیلوګرام بیه ۵۷۹ امریکايي ډالرو ته لوړه شوې. د دې لوړوالي اصلي لامل د حاصلاتو راټولولو موسم او بازار ته د بې کیفیته تازه اپینو راتګ دی. ټولنیز پېغور او ننګ لاهم د دې درملنې په لټه کې کسانو لپاره یو لوی خنډ دی.

۶۴. د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر د راپور ورکونې مودې پر مهال، په ۱۲ ولایتونو کې د معتادینو درملنې په ۱۳ مرکزونو، د مراجعې په ۲ مرکزونو، د اعتیاد د مراقبت ۲ مرکزونو او د حرفوي زده کړو په ۹ مرکزونو کې د نشه اي توکو د ۵۱۳۴۲ کاروونکو سره مرسته کړې ده، چې ۳۴ سلنه یې ښځې دي. د روغتیا نړیوال سازمان په مرسته د ۳۷۱ ښځو او ماشومانو په ګډون، د معتادینو درملنې په بستر داره مرکزونو کې د ټولټال ۱۴۳۸ کسانو بشپړه درملنه شوې او له درملنې وروسته د معتادینو درملنې له مرکزونو څخه رخصت شوي دي او همدارنګه ۱۲۵۰ کسانو د اعتیاد د مراقبت درملنه ترلاسه کړې ده. همدارنګه یاد دفتر په اووه ولایتونو کې د ۳۹۹۲ بزګرو کورنیو سره، چې د ۳۰ سلنه سرپرستانې یې ښځې وې، د مشروع کښت موادو او روزنې په برخه کې مرسته کړې ده. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په هلمند او کندهار ولایتونو کې له ۲۱ کرنیزو کاروبارونو سره، چې ۱۰ یې د ښځو لخوا پر مخ وړل کېدل، په کابل کې په کرنیزو نندارتونونو کې د ګډون لپاره مرسته کړې، څو په دې توګه دوی خپلې وچې مېوې او د کوکنارو مخکنیو کروندګرو څخه ترلاسه شوي کرنیز پروسس شوي توکي وپلوري. د ملګرو ملتونو ادارو لخوا د کوکنارو مخکنیو کروندګرو لپاره د بدیل معیشت په برخه کې د مرستو هڅو په لړ کې په

---

[3] دا لینک: www.unodc.org/coafg/uploads/documents/Afghanistan_Drug_Insights_Volume_5.pdf. وګورئ.

[4] د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر، په افغانستان کې د نشه اي توکو کارونه: ۲۰۰۹ کال سروې (۲۰۰۹).

هلمند، کندهار او ننګرهار ولایتونو ۲۶ د اوبو سیستمونه او د ابیارۍ کانالونه رغول شوي دي څو په کرنه کې اوبو ته لاسرسی زیات شي، او همدارنګه په بادغیس، هلمند او کندهار ولایتونو کې په شپږو ولسوالیو کې ۴۰ شنې خونې هم جوړې شوي دي.

۶۵. یوناما د جون په ۳۰ نېټه په دوحه کې د نشه اي توکو سره د مبارزې کاري ډلې دریمه غونډه جوړه کړه، چې د غړو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو، او همدارنګه د افغانستان د واکمنو چارواکو، افغان متخصصینو او ملګرو ملتونو او یو نړیوال مالي بنسټ استازو پکې ګډون کړی و. د غونډې ګډونوالو د کوکنارو کروندګرو لپاره د بدیل معیشت لپاره د ګډ کاري پلان پر تطبیق، د نشه اي توکو د مخنیوي او د معتادینو درملنې لپاره د تعامل ګډ پلان پر جوړولو او د نشه اي توکو د قاچاق او تولید، د پولې مدیریت او قانون حاکمیت اړوند مهمو موضوعاتو په هکله بحثونه وکړل.

## اووم: د ماموریت ملاتړ

۶۶. په یوناما کې تر جون ۳۰ نېټې پورې، د تشو بستونو کچه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۱۸ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړیوالو رضاکارانو لپاره ۱۱ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۵ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۸ سلنه او د عمومي خدمتونو کټګورۍ داخلي کارکوونکو لپاره ۱۴ سلنه وه، چې دغه کچه د تایید شویو بستونو په پرتله په ترتیب سره، ۸،۳ سلنه، ۹،۳ سلنه، ۵ سلنه، ۱۵،۵ سلنه او ۱۱،۲ سلنه ده. د ښځینه کارکوونکو تناسب د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو نړیوالو رضاکارانو لپاره ۳۷ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۰ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۷ سلنه او د عمومي خدمتونو کټګورۍ داخلي کارکوونکو لپاره ۱۰ سلنه دی.

## اتم: مشاهدې

۶۷. د افغانستان خلک د لوی اقتصاد منځنۍ ودې او نسبي امنیت سربېره لا هم بنسټیزو خدمتونو ته د محدود لاسرسي په درلودلو سره، له شدیدې پراخې بېوزلۍ سره مخ دي. د بېوزلۍ او افراطیت اړوند غبرګ خطرونه، که هغه ترهګري وي یا د ښځو په تړاو د طالبانو محدودوونکې پالیسۍ وي، افغانستان له نړیوالې ټولنې څخه د لا زیاتې انزوا په لور بیايي.

۶۸. اوږدمهاله اقتصادي وده به د نفوسو د زیاتوالي فشارونو، له بهر څخه په دې وروستیو کې د افغان وګړو ډله ایزې راستنېدنې او په بشري پرمختګ او بنسټیزو خدمتونو کې نېمګړې او تبعیضي پانګونې ته په پام سره، لا هم په خورا ټیټه کچه کې وي. زیات شمېر افغانان د ژوندانه چارې په ډېرې سختۍ سره پر مخ وړي، چې د واکمنو چارواکو لخوا د محدودوونکو پالیسیو او کړنو د جدي تطبیق دوام نه یوازې دا چې د افغانانو او په تېره بیا ښځو او انجونو اقتصادي، ټولنیز او شخصي ژوند باندې منفي اغېزه کړې، بلکې له نړیوالې ټولنې سره د دې هېواد همکاري او بېرته ورسره یوځای کېدل له خنډ سره مخ کړي دي. د نړیوالې ټولنې زیات شمېر غړي د دوی د تعامل په مخکنیو هڅو کې د پرمختګ نشتوالي څخه خپله نهیلي او په راتلونکې کې د تعامل کمولو نیت او اراده څرګنده کړې ده. د سیمې په کچه تعامل د اړینې همکارۍ رامنځته کولو او د افغانانو پر وړاندې سترو ننګونو د له منځه وړلو په موخه د سرچینو لپاره بسنه نه کوي، او دا هغه ننګونې دي چې په ۲۰۲۵ کال کې د پام وړ زیاتې شوي دي.

۶۹. زه په دې وروستۍ موده کې هېواد ته په ډله ایزه توګه د افغانانو د راستنېدنې اغېزو په اړه ډېر اندیښمن یم، چې تر جولای ۲۶ نېټې پورې د سنجش له مخې ۱۶۲۷۰۰۰ افغانان هېواد ته راستانه شوي دي. زیات شمېر راستانه شوي کېدای د خوندیتابه له جدي خطرونو، سرپناه، معیشت او بنسټیزو خدمتونو ته د لاسرسي له نشتون سره مخ دي، او په هېواد کې موجوده بشردوستانه ظرفیتونو ته تقاضا لا له وړاندې ډېره زیاته ده. زه پر غړو هېوادونو باندې غږ کوم چې، د نه شړلو اصل په ګډون، د خوندیتوب په تړاو خپل نړیوال مکلفیتونه رعایت کړي او داسې رامنځته کړي چې راستنېدنه په خپله خوښه، خوندي او شرافتمندانه ده او له خپلو ټولنو سره د راستنېدونکو کېدوالو د بېرته یوځای کېدو په برخه کې پایداره مرسته وکړي څو د بشري بحران د لا زیاتېدو خطر او زیان منونکو سیمو بې ثباته کېدل راکم شي.

۷۰.	خپل هېواد ته د راستنو شوو افغانانو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو راپورونه خورا ځورونکي دي. زه په واکمنو چارواکو غږ کوم څو د راستنیدونکو حقونو ته درناوی وکړي، خوندي یې کړي او وړ یې کړي، څو ډاډ ترلاسه شي چې افراد د دوی له راستنیدو وروسته نه ځورول کیږي او د نورو سرغړونو د مخنیوي لپاره اقدامات ترسره کیږي. همدارنګه زه په غړو هیوادونو هم غږ کوم چې د خطر سره مخ افغانانو د بیا میشتیدنې لپاره خوندي لارې چارې لا زیاتې کړي او د انفرادي ارزونې په نشتون کې افغانستان ته د افغان مهاجرینو او کډوالو له راستنیدو څخه ډډه وکړي څو ډاډ ترلاسه شي چې، د دوی راستنول د دوی د بشري حقونو څخه سرغړونه نه ده.

۷۱.	روان مالي بحران په افغانستان کې د ملګرو ملتونو او مرستندویه شریکانو لپاره د پام وړ مالي او عملیاتي بې ثباتۍ لامل شوی دی، او دا یو داسې وضعیت دی چې اوس په ډله ایزه توګه د راستنیدونکو د فشار له امله نور هم خراب شوی دی. د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمایي کې، د بشردوستانه مرستو شریکانو د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله ۶۰۰۰۰۰ څخه کمو خلکو ته رسېدنه کړې ده. زه له ټولو بسپنه ورکوونکو څخه غوښتنه کوم څو خپلې مرستې زیاتې کړي او/یا انعطاف منونکي، باوري او اوږدمهاله تمویل ته لومړیتوب ورکړي. مهمې بشردوستانه او پایښت لرونکي او مقاومت رامنځته کوونکې هڅې باید دوام ومومي.

۷۲.	د واکمنو چارواکو لخوا د کوکنارو :شتونو له منځه وړلو هڅو د دوام هرکلی کوو، خو د کوکنارو له منځه وړلو کمپاینونو پر مهال د تاوتریخوالي رامنځته کېدل د ډېرې اندیښنې وړ دي. زه له واکمنو چارواکو څخه په کلکه غوښتنه کوم څو د اعتراضونو په تړاو له زور او ځواک څخه یوازې هغه مهال چې جدي اړتیا او مناسب وي، د وروستۍ وسیلې په توګه کار واخلي. واکمن چارواکي او نړیواله ټولنه باید د بدیل معیشت برابرولو په برخه کې خپلې هڅې زیاتې کړي. همدارنګه زه په افغانستان کې د کورنۍ نشې کارونې ستونزې او د افغانانو پر روغتیا د هغې اغېزو په اړه اندیښمن یم.

۷۳.	د منځنیو او ثانوي زده کړو څخه د ښځو او انجونو پر دوامداره محرومیت او د دوی پر بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو لکه؛ د تګ راتګ ازادي، کار او په عامه ژوند کې ګډون باندې لګول شوي جدي بندیزونه باید د ټولو لپاره د زیاتې اندیښنې وړ وي. زه یو ځل بیا په واکمنو چارواکو باندې غږ کوم چې ټول تبعیضي اقدامات لیرې کړي او د ټولو افغان ښځو او انجونو د حقونو ورکولو، زیاتولو او خوندي ساتلو لپاره د افغانستان نړیوال مکلفیتونه رعایت کړي.

۷۴.	د زور او جبر له لارې مذهبي اقلیتونه د خپلو مذهبي چارو ترسره کولو څخه منع کول، د منلو وړ نه دي. په ځانګړې توګه، په دې وروستیو کې د ناپېژاندو کسانو لخوا په بدخشان ولایت کې د شیعه ډلې د یو مهم غړي وژل کېدل زما لپاره اندیښمنوونکي دي. واکمن چارواکي باید د ټولو مذهبي ډلو د فزیکي امنیت او مذهبي ازادۍ ډاډ رامنځته کړي.

۷۵.	د واکمنو چارواکو لخوا د سیاسی بحثونو، مشاعرو او ټولنیزو رسنیو محدودوونکي نوي اقدامات هم د ډېرې اندیښنې وړ دي. دغه ډول محدودیتونه بیلابیل ډوله نظر څرګندونه او بیان او د عامو خلکو د اندیښنو شریکولو لارې چارې بندوي، او دا هغه لارې چارې دي چې د عامو خلکو د باور جوړولو لپاره خورا مهمې دي. پر رسنیو محدودیتونه لا هم یو داسې سکتور په خطر کې اچوي چې، د مالي تمویل د چټک کمښت له امله وار له مخه له زیان او فشار سره مخ شوی دی. خبریالان او د رسنیو کارکوونکي باید خپلو کارونو ته پرېښودل شي او د بیان د ازادۍ حق باید رعایت او وساتل شي.

۷۶.	روغتیایي او نورو اړینو خدمتونو او معیشت ته د افغانانو او په تېره بیا ښځو او انجونو د لاسرسي دوامداره ساتلو لپاره بیړنۍ اړتیا ده. زه په ټولو همکارو شریکانو باندې په ټینګار سره غږ کوم څو ډاډ رامنځته کړي چې بشري مرستې د ټولو اړمنو لپاره اساسي، بې طرفه او د لاسرسي وړ دي. د ښځو په مشرۍ او ژوند ژغورونکو خدمتونو لپاره دوامداره ملاتړ اړین دی څو د افغان ښځو او انجونو کرامت، خوندیتوب او هیلې وساتل شي.

۷۷.	نړیواله ټولنه د افغان انجونو او مېرمنو د نه منلو وړ وضعیت، د ټولګډونه حکومت نشتون او د بشري حقونو وضعیت د پام وړ خرابوالي په اړه خورا زیاته اندیښمنه ده. واکمنو چارواکو هم خپل شکایتونه کړي دي: کنګل شوې شتمنۍ، بندیزونه، د حکومت په رسمیت نه پېژندنه، پراختیایي مرستو ته اړتیا او پر مرستو د اتکاء پای. ملګري ملتونه لا هم خپلو هڅو

ته دوام ورکوي څو د دغو ننګونو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي، او دې چارې د افغانانو د ګټې لپاره د نړیوالې ټولنې او واکمنو چارواکو ترمنځ د خورا منسجم، همغږي او رغنده تعامل زمینې برابرولو کې مرسته کړې ده.

۷۸.	ملګرو ملتونو د دغه بهیر د یوې برخې په توګه، د جولای په ۳۰ او د جولای په لومړۍ نېټه د نشه اي توکو پر وړاندې د مبارزې او خصوصي سکتور کاري ډلو غونډې جوړې کړې، چې د باور فضاء په رامنځته کولو کې یې مرسته وکړه او ګډونوالو وکولای شول د افغانانو پر وړاندې ننګونو د له منځه وړلو لپاره عملي حل لارو باندې بحث وکړي. د نوې سیاسي لار نقشې اړوند پیچلي موضوعات یو له بل سره تړلي دي او د بیلابیلو ښکیلو اړخونو اجماع ته اړتیا لري؛ او پرمختګ به یې وخت ونیسي. زه په نړیواله ټولنه، واکمنو چارواکو او نورو افغان شریکانو باندې غږ کوم چې د معقولو توقعاتو په درلودلو سره په خبرو اترو کې فعاله ونډه واخلي.

۷۹.	په پای کې، زه په افغانستان کې زما د ځانګړې استازې، روزا اوتونبایوا تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو او همکارو انجوګانو څخه د دوی د دوامداره اخلاص او په خورا ننګوونکې چاپیریال کې د افغانستان خلکو ته د خدمت کولو له امله د زړه له تله مننه کوم.

---------------